مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۱۴مه | ٤٤٤مه ګڼه

2 017550 139621

# د سلګونو بایومټریک دستګاوو قرنطین کېدل؛

## ښايي د ولسمشريزو ټاکنو لومړنۍ پايلې په ټاکلې نېټه اعلان نه شي



۳

### د امريکايي ځواکونو وتل او د سولې د خبرو بيا پيل

۲ مخ

### ولې د افغان جګړې قېمت عام وګړي پرېکوي؟

۲ مخ

### يوه تاريخي کيسه؛ د کردانو حال او پر امريکا د تکيه کوونکو برخليک!

۳ مخ

## هېواد

۴ مخ

### عراق

د عراق ۱۴ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، ۳۵ سلنه خلک يې د کرنې په سکټور پر کار بوخت دي او د هېواد ۱۴ سلنه ناخالص کورني توليدات له همدې سکټور څخه لاس ته راوړي.



### په هلمند کې پر ۶۰۰ مالدارانو د مالدارۍ اړوند توکي ووېشل شول



د هلمند د کرنې رياست په دغه ولايت کې د مالدارۍ د پراختيا او د مالدارو کورنيو د ملاتړ او له دوی سره د مرستې په پار، داخل د دغه ولايت د مرکز لښکرګاه، ناوې، ګرمسېر، نهرسراج او ناد علي ولسواليو پر ۶۰۰ مالدارانو د مالدارۍ اړوند توکي ووېشل.

د هلمند د کرنې رييس زلمی الکو وايي، په دغو وېشل شويو توکو کې د څارويو د خوراکي توکو په ګډون، نور هغه اړين توکي شامل وو چې په يادو ولسواليو کې د مالدارۍ د پرمختيا په موخه، پر دغو مالدارانو وېشل شوي دي.

د هلمند د کرنې اداره هلې ځلې کوي، چې هلمند کې د مالدارۍ په برخه کې د زونوس «د څارويو او انسانانو ترمنځ ګډه ناروغي» او کانګو تبې ناروغيو مخنيوي په پار، کوچيانو او مالدارو ته عامه پوهاوی ورکړي.

### وال سټرېټ ژورنال: ممکن د امريکا او طالبانو ترمنځ خبرې بيا پيل شي

امريکايي وال سټرېټ ژورنال ورځپاڼې د افغانستان په اړه يو مطلب کې ليکلي، چې امريکا هڅه کوي څو له طالبانو سره په ټپه ولاړې خبرې بېرته له سره پيل کړي. د ورځپاڼې په خبره، د افغان سولې لپاره د امريکا ځانګړي استازي زلمي خليلزاد په دې اړه له امريکايي ډيپلوماټانو سره خبرې کړې دي او دغه راز يې په اسلام اباد کې له طالب پلاوي سره هم ليده کاته درلودل، څو د سولې خبرو د پيل لپاره د باور فضا رامنځته کړي. ورځپاڼې ليکلي، طالبان بايد د خبرو د پيل لپاره مخکې له مخکې تاوتريخوالی کم کړي او د تاوتريخوالي کمولو بېلګه به د تېر اختر په څېر څو ورځنی اوربند وي.

دا په داسې حال کې ده چې د امريکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ هم په خپل يو تازه ټويټ کې ويلي چې دوی نور نه غواړي په بې مانا جګړو کې ښکېل پاتې شي او په خبره يې، ژر به خپل ځواکونه له افغانستانه هم وباسي.

دا په داسې حال کې ده چې څه موده وړاندې په قطر کې د دواړو لورو ترمنځ نهه پړاوه خبرې وروسته له هغې د ولسمشر ټرمپ لخوا لغوه اعلان شوې، چې طالبانو په کابل کې په يوه ځانمرګي بريد کې د يو امريکايي په ګډون، دوه د ناټو سرتېري او لس افغانان ووژل.

له هغې وروسته يوځل بيا هڅې پيل شوې چې دغه خبرې بيا پيل شي، خو تر دې دمه يې څرک نه ليدل کېږي.

### خپلو قوماندانانو ته مې ويلي چې له افغانستانه ځواکونه را وباسي



۵ مخ

### پولیس کابل: جرایم جنایی در ماه میزان در کابل کاهش یافته است



قوماندانی پولیس کابل از کاهش موارد جرایم جنایی در ماه میزان در مقایسه با ماه سنبله خبر داده است.

این در حالی‌است که شماری از مردم در کابل از افزایش افراد مسلح، قتل، دزدی، آزار و اذیت شان شاکی اند. فردوس فرامرز، سخنگوی پولیس کابل روز یکشنبه (۲۱ میزان) به رادیو آزادی گفته است که در ماه جاری وقوع بیش از ۹۰ مورد جرم ثبت شده که به ۵۱ مورد آن رسیدگی شده است.

به گفتهٔ آقای فرامرز، ۸۸ نفر در مورد وقوع ۵۱ مورد جرمی که به آنها رسیدگی شده، بازداشت شده‌اند. او افزوده است که این جرایم شامل «قتل، جراحت، دزدی، اقدام به قتل، حمل و فروش سلاح بدون مجوز» می‌شود.

سخنگوی پولیس گفته است که این آمار در زمان مشابه در ماه گذشته بیش از ۱۰۰ مورد بوده است.

او دلیل اصلی کاهش جرایم در ماه میزان را بازداشت ولگردها در کوچه‌ها و خیابان‌ها یاد کرده است. به گفتهٔ او، بازداشت آنها بر اساس برنامهٔ تازهٔ پولیس کابل صورت می‌گیرد که با اجرای آن روزانه ۱۰ تا ۲۰ ولگرد بازداشت می‌شوند.

ولی تجربه قربانیان جرایم جنایی در کابل بیانگر گستردگی چنین جرایم در این شهر است. آنها می‌گویند، به همان میزانی که نگران حملات انفجار و مهاجمان انتحاری گروه طالبان هستند، نگران تبهکاران هم هستند که دست به قتل، سرقت و اخاذی می‌زنند. شماری از مردم در کابل به رادیو آزادی گفتند که وضعیت امنیتی در این شهر در این شب و روزها باعث نگرانی آنها شده و هر شب افراد مسلح دست به قتل، دزدی، آزار و اذیت می‌زنند.

if You Can Think It, We Can ink it.
غوره کیفیت او چټک خدمات
په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL Printing Co.
وایګل چاپ
+93 (0) 77 55 22 677, +93 (0) 782 98 9696
+93 (0) 202512626
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co@gmail.com

## دریـــځ

### د امریکایي ځواکونو وتل او د سولې د خبرو بیا پیل

د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ یو ځل بیا ویلي چې د امریکا اوږدې جګړې به ختموي. هغه ویلي، خپلو قوماندانانو ته یې ویلي چې له افغانستان څخه د ځواکونو د وتلو تیاری ونیسي. ټرمپ تر دې وړاندې هم ویلي چې نور بې ګټې جګړې نه کوي او له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي. له دې سره وال سټرېټ ژورنال په یوه مطلب کې ویلي چې امریکا غواړي له طالبانو سره بیا خبرې پیل کړي.

د امریکایي ځواکونو د وتلو بحث څومره جدي دی او ایا د سولې خبرې بیا پیلېږي؟

په امریکا کې عامه ذهنیت د امریکا د بهرنیو جګړو، په ځانګړي ډول د افغانستان د جګړې خلاف دی. دوی غواړي چې په افغانستان کې امریکایي جګړه ختمه شي او ځواکونه یې بېرته امریکا ته ور وګرځي. له همدې امله بیا بیا پر حکومت او سیاستوالو فشار راوړي چې په دې تړاو ژر تصمیم ونیسي او دا ستونزه حل کړي. له دې امله چې د ۲۰۲۰ کال په پای کې په امریکا کې د ولسمشرۍ ټاکنې کېږي، نو سیاستوال او کاندیدان غواړي د ولس د خوښې کارونه او ژمنې وکړي، څو د هغوی رایه خپله کړي. له همدې امله ټرمپ او نور سیاستوال بیا بیا وایي چې خپل ځواکونه له افغانستان څخه وباسي. که څه هم د بشپړ ایستلو بحث یو څه ستونزمن ښکاري، خو د عامه ذهنیت لپاره به امریکا په افغانستان کې خپل ځواکونه را کم کړي او دا کار حتمي کېدونکی دی.

له بله اړخه د ځواکونو د ایستلو او کمولو لپاره پکار ده چې امریکا په افغانستان کې یو سیاسي جوړجاړی وکړي. له سیاسي جوړجاړي پرته له افغانستان څخه د ځواکونو وتل به نه یوازې دا چې نړۍ ته په جګړه کې د امریکا د ماتې تصویر ورکوي، بلکې امریکایي ګټې هم له ګواښ سره مخ کوي. له همدې امله امریکا اړ ده چې له طالبانو سره سوله او سیاسي جوړجاړی وکړي. طبیعي ده چې امریکا غواړي چې دا سوله او سیاسي جوړجاړی یې ګټې خوندي کړي او دغه راز نړۍ ته د خپلې بریا تصویر ورکړي. له همدې امله یې له طالبانو سره اوږدې خبرې وکړې او اوس یې درولې دي. دا خبرې به اوس بیا پیلېږي. داسې ښکاري چې د بندیانو تبادله به د دې سبب شي چې ټرمپ ووایي، طالبان بدل شوي دي. لومړنۍ تبادله شوې ده او داسې اټکل کېږي چې د امریکایي پوهنتون استادان به هم د انس حقاني په شمول، له ځینو طالب بندیانو سره تبادله شي. دا چاره او ځینې نور سمبولیک بدلونونه به ټرمپ ته د خبرو د بیا پیل اجازه په لاس ورکړي. دا خبرې به بیا پیل شي، چې ښایي لنډ وخت دوام وکړي او په پایله کې یې یو داسې جوړجاړی رامنځ ته شي چې له افغانستان څخه د امریکایي ځواکونو وتلو او د امریکایي ګټو خوندیتوب ته لاره هواره کړي.

د امریکا او طالبانو معامله کېدونکې ده، خو پکار ده چې موږ افغانان دې چارې ته جدي پام وکړو. سوله زموږ اړتیا ده او له همدې امله باید د سولې لپاره له ټولو لارو چارو کار واخلو. له سولې سره مخالفت، د امریکا د پاتې کېدو هڅې او د جګړې دوام نه زموږ په خیر دی او نه هم دا زموږ د ستونزو له حل سره مرسته کوي.

# ولې د افغان جګړې قیمت عام وګړي پرېکوي؟

لیکوال: احمدشاه راشد- د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز څېړونکی

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ (یوناما) په خپل تازه خپاره شوي راپور کې کښلي چې د امریکایي ځواکونو له لوري په فراه او نیمروز ولایتونو کې د نشه يي توکو د تولید پر فابریکو د هوایي بریدونو له امله، ډېرو ملکي کسانو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

نوموړی راپور چې د تلې/میزان میاشتې په ۱۷مه خپور شوی، پکې ویل شوي چې د روان لمریز کال د ثور میاشتې په ۱۵مه، د فراه او نیمروز ولایتونو په بګوا او دلارام ولسوالیو کې د هوایي بریدونو له امله، چې پر ۶۰ ځایونو باندې تر سره شوي دي، له ۶۰ ډېرو عامو وګړو ته پکې مرګه‌ژوبله اوښتې ده.

په داسې حال کې چې د سولې خبرې اترې له تېرې نږدې یوې لسیزې راهیسې یې چې هڅې کېدلې، په وروستیو څو میاشتو کې یوه هیله‌ښښونکې پړاو ته رسېدلې وې؛ خو د ځینو عواملو له امله بېرته په ټپه ودرېدلې.

په تېرو دوو لسیزو کې د ملکي وګړو مرګ‌ژوبلې ته په کتو، د هوایي بمباریو زیاتوالی، په بمباریو کې د عامو وګړو په وژلو سره د حکومت سکوت، په ۲۰۱۹ز کال کې امنیتي وضعیت ته کتنه، د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې پایلې او د سولې پر پروسه باندې د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې اغېزې، هغه موضوعات دي چې دلته مو بحث پرې کړی دی.

**له ۲۰۰۱-۲۰۱۳ ز کال پورې عامو وګړو ته اوښتې مرګ‌ژوبله**

د افغانستان په روانه جګړه کې له تېرو ۱۸ کلونو راهیسې د جګړې د ښکېلو خواوو له لوري د ملکي وګړو ژوند ته پاملرنه نه ده شوې او له همدې امله هر کال په دغه جګړه کې د جګړې د ښکېلو لورو ترځنګ، زرګونو ملکي وګړو ته هم مرګ‌ژوبله اوښتې.

له ۲۰۰۱ ز کال را وروسته په افغان جګړه کې د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې دقیقه کچه معلومه نه ده؛ خو له ۲۰۰۱ ز کال څخه تر ۲۰۰۶ ز کال پورې د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې په هکله ځینې تخمینونه او شمېرې شته دي. د دغو شمېرو له مخې، په ۲۰۰۱ ز کال کې د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې کچه لوړه وه او ټول‌ټال ۲۳۷۵ عام وګړي په دغه کال کې وژل شوي وو، خو وروسته بیا دا کچه راټیټه شوه. په ۲۰۰۲، ۲۰۰۳، ۲۰۰۴، ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ ز کلونو کې په ترتیب سره ۴۰۰، ۴۵۰،۲۳۰، ۴۱۳ او ۹۲۹ عام وګړي وژل شوي وو. په ۲۰۰۷ ز کال کې چې جګړه ورو ورو ګرمه شوه، ورسره د عامو وګړو مرګ‌ژوبله هم زیاته شوه، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي دفتر(یوناما) د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې دقیقې څارنې ته مخه کړه. د یوناما د شمېرو له مخې، له ۲۰۰۷ ز کال څخه د ۲۰۱۴ ز کال تر پایه پورې ټول ۲۱۴۷۴ ملکي وګړي وژل شوي او ۲۹۹۵۶ نور ټپیان شوي دي. په دغو ټپیانو کې یوه ډېره برخه یې هغه کسان دي، چې لږ تر لږه د بدن یو غړی یې پرې شوی دی. یوازې په ۲۰۱۴ ز کال کې د سره صلیب نړیوالې کمېټې ۱۳۱۸ نوي داسې معیوبین راجستر کړي وو، چې د جګړې له کبله یې د بدن یو غړی له لاسه ورکړی دی.

په دې توګه، یوازې د ثبت شویو شمېرو له مخې، له ۲۰۰۱ ز کال څخه تر ۲۰۱۴ ز کال پورې ۲۶۲۷۱ عام وګړي وژل شوي او تر ۴۰۰۰۰ زرو ډېر ټپیان شوي دي.

**د ملي یووالي حکومت په دوره کې د عامو وګړو مرګ‌ژوبله**

په ۲۰۱۴ ز کال کې د ملي یووالي حکومت له راتګ سره، کله چې له امریکا سره امنیتي تړون په هېواد کې د امن او سولې په پار لاسلیک شو؛ خو برعکس د جګړې میدان ګرم او د ملکیانو مرګ‌ژوبله زیاته شوه. د یوناما د ارقامو له مخې، د ملي یووالي حکومت په دوره کې هر کال شاوخوا لسو زرو ملکي وګړو ته مرګ‌ژوبله اوښتې او په ټولیز ډول دغه وضعیت ورځ تر بلې د جګړې د میدان له ګرمېدو سره د خرابېدو پر لور روان دی، چې په افغانستان کې د یوه ناورین ښودنه کوي. په ۲۰۱۴، ۲۰۱۵، ۲۰۱۶، ۲۰۱۷ او ۲۰۱۸ ز کلونو کې په ترتیب سره هر کال ۱۰۵۳۴، ۱۱۰۰۲، ۱۱۴۱۸، ۱۰۴۵۳ او ۱۰۹۹۳ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده، د ۲۰۱۴ ز کال له لومړۍ نېټې څخه د ۲۰۱۸ ز کال تر پایه پورې ۵۴۴۰۰ عامو وګړو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده.

په تېرو پنځو کلونو کې د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې د کچې لوړوالي بېلابېل لاملونه لرل. د دولت د وسله‌والو مخالفینو له لوري په ښاري او ګڼ‌مېشتو سیمو کې بریدونه، د افغان حکومت له لوري تهاجمي عملیات، د سیمه‌ییزو پولیسو د جوړښتونو پراختیا، د هوایي بریدونو زیاتوالی او په ګڼ‌مېشته سیمو کې مرموزې خونړۍ چاودنې یې مهم لاملونه وو.

**پر عامو وګړو د هوایي بریدونو زیاتوالی**

کله چې د امریکا او طالبانو ترمنځ د سولې خبرې اترې پیل شوې، دواړو لوریو د خبرو د مېز پر سر د زیات امتیاز د تر لاسه کولو لپاره په افغانستان کې جګړې ته زور ورکړ؛ خو په وروستیو څو میاشتو کې په هوایي بمباریو کې ډېرى مهال عام وګړي په نښه شوي. د یوناما په راپور کې چې (چهارشنبه، تلې/ میزان ۱۷مه) خپور شوی، ویل شوي چې امریکایي ځواکونو د فراه او نیمروز ولایتونو په دوو ولسوالیو بګوا او دلارام کې پر ۶۰ محلونو ۶۰ بریدونه کړي چې په ترڅ کې یې ملکي کسانو ته مرګ‌ژوبله اوښتې. په راپور کې راغلي، دغه بریدونه چې د روان لمریز کال د ثور میاشتې په ۱۵مه تر سره شوي، ۳۹ پېښې یې د ملکي کسانو د وژل کېدو دي، چې په دغو بریدونو کې ۳۰ ملکي وګړي وژل شوي، ۵ ټپیان او ۴ مورده هم نامعلوم دي.

د دې راپور له مخې، په دغو بریدونو کې ۱۴ ماشومان او یوه مېرمن هم وژل شوي دي. یوناما ویلي چې د وژل شویو کسانو له ډلې ۱۷ یې د نشه یي توکو په فابریکو کې د لابراتوار په برخه کې کار کاوه، هوایي بمبارۍ د عامو وګړو په مرګ‌ژوبله کې رول لرونکی او مهم فکټور دی، په داسې حال کې چې په افغانستان کې یوازې د روان میلادي (۲۰۱۹) کال په اګسټ او سپټمبر میاشتو کې د امریکایانو له لوري ۱۷۳۱ بمونه غورځول شوي دي؛ خو پایله یوازې دا وه چې جګړه ګرمه وساتل شي او عامو وګړو ته پکې مرګ‌ژوبله واوړي، پرته له دې یې کومه مثبته پایله نه ده لرلې، ځکه د نظامي فشارونو له لارې د افغان جګړې ګټل هغه څه دي، چې په تېرو ۱۸ کلونو کې یې اغېز نه دی لیدل شوی او یوازې د تېرو ناکامو تجربو تکرار بلل کېدای شي. له هوایي بمباریو ورهاخوا، د وسله‌والو مخالفینو بریدونه چې په کابل، پروان او ننګرهار کې تر سره شوي دي، ښې بېلګې یې دي او په دې وروستیو کې ځینې مرموزې چاودنې او بریدونه هم د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې یو بل لامل دی. له دې ټولو سره ویلی شو، چې د افغانستان په روانه جګړه کې د ښکېلو خواوو له لوري د جګړې اصولو ته نه پاملرنه، ړندې بمبارۍ او په ټولیز ډول قصداً د وحشت خپرول، هغه څه دي چې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې زیاتوالي ته یې لار هواره کړې ده.

**د عامو وګړو په وژلو د حکومت سکوت**

د ملي یووالي حکومت چې مشري یې محمد اشرف غني او عبدالله عبدالله کوي، له امریکایانو سره د امنیتي تړون هغه نسخه لاسلیک کړه، چې امریکایي ځواکونه یې له مخې قضایي مصوونیت لري. که څه هم د ۲۰۱۳ ز کال دودیزې لویې جرګې هم دا غوښتنه کړې وه چې دا بند باید لرې شي؛ خو د غني حکومت دا ماده څنګه چې وه، همداسې یې ومنله. د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز لەخوا په خپره شوې ستراتېژیکه رساله کې، چې د «امنیتي تړون علمي او حقوقي ارزونې» په نوم خپره شوې او د امنیتي تړون په اړه د ځینو څېړونکو نظرونه پکې راټول شوي، همدا وېره څرګنده شوې چې د قضایي مصوونیت ورکړه به د امریکایانو په لاس د افغانانو د وژلو مجوز وي. که امریکایان افغانان وژني، افغانان یې د پوښتنې حق نه لري. له بلې خوا، د ملي یووالي حکومت په لومړیو ورځو کې، په افغانستان کې یوه امریکایي قوماندان له نیویارک ټایمز سره په مرکه کې ویلي وو، چې د غني حکومت د کرزي په پرتله له دوی سره ډېر همکار دی. دغه جنرال د دغو همکاریو تفاوت د شپې او ورځې په څېر ښودلی و! د شویو بمباریو په تړاو، چې اوس یې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولي په اړه راپور خپروي، د افغان حکومت سکوت ته په کتو سره، د امریکایي قوماندان خبره ډېره کره ثابتېږي. کله چې د امریکا ولس په اتلسمه پېړۍ کې د انګلیس استعمار پر ضد پاڅون کړی و، په باسټن کې انګلیسي اردو اووه امریکایان وژلي وو، چې تر ننه امریکایان هغه وژنه د «باسټن قتل عام» بولي او په هره مارچ میاشت کې د هغوی یاد تازه کوي؛ خو دلته د هرې بمبارۍ په پایله کې په لسګونو عام وګړي وژل کېږي، نور خو پرېږده، افغان حکومت لږ تر لږه امریکایانو ته د «احتیاط» لارښوونه هم نه کوي!

**په ۲۰۱۹ ز کال کې امنیتي وضعیت ته کتنه**

د ۲۰۱۹ ز کال په لومړیو شپږو میاشتو کې، وسله والې جګړې ملکي وګړو ته د پام وړ زیان اړول جاري ساتلي، د ۲۰۱۹ ز کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۱ مې پورې، د ملګرو ملتونو د سیاسي استازولۍ د راپور له مخې، ۳۸۱۲ تنو ته مرګ‌ژوبله اوښتې چې د ۲۰۱۸ ز کال د ورته مودې په پرتله، ۲۷ سلنه کموالی په ډاګه کوي چې دا له ۲۰۱۲ ز کال راهیسې په شپږو میاشتو کې تر ټولو کم تلفات دي. په داسې حال کې چې د ۲۰۱۹ ز کال د لومړۍ نیمایي په پرتله، په دویمه کې د ملکي وګړو په مړینه کې ۲۷ سلنه زیاتوالی ښودل شوی دی.

۱- په جګړه کې د مېرمنو اغېزمن کېدل: ښځې لا اوس هم په افغانستان کې د جګړو له امله په نامتناسب ډول اغېزمنې کېږي، د ژوند د لاسه ورکولو، ټپي کېدلو، د جګړې اړوند بېځایه کېدنې، اقتصادي ناامنۍ او بنسټیزو خدمتونو ته د لاسرسي له نشتون څخه کړېږي. وسله واله جګړه دغه راز د ښځو پر وړاندې نابرابري او له تبعیض ډکې کړنې زیاتوي، کوم څه چې له جنسي او د جنډر پر بنسټ تاوتریخوالي سره د هغوی مخ کېدل زیاتوي.

د ۲۰۱۹ ز کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې څخه د جون تر ۳۰ مې پورې، د وسله‌والې جګړې له امله ۴۳۰ ښځو ته چې له دې جملې څخه ۱۴۴ یې وژل شوې او پاتې ۲۸۶ یې ټپیانې شوې دي، د ۲۰۱۸ ز کال د ورته مودې په پرتله ۲۲ سلنه کموالی په ډاګه کوي. د دې مرګ‌ژوبلې زیاته برخه د هوایي ړندو بمباریو له امله ده.

۲- په جګړه کې ماشومانو ته اوښتي زیانونه: د ۲۰۱۹ ز کال په لومړۍ نیمایي کې، د جګړې اړوند تاوتریخوالي په افغانستان کې پر ماشومانو هم خپل بد اغېز درلودلی، په ځانګړي ډول د هغو ګواښونو چې هغوی ورسره له جګړې څخه د پاتې شونو چاودېدونکو توکو، پر ښوونځیو او روغتونونو د بریدونو او د جګړې د ښکېلو خواوو لەخوا د ګومارنې او کارونې د زیانمنتوب له امله مخ دي. د ملګرو ملتونو د سیاسي استازولۍ د ۲۰۱۹ ز کال د لومړیو شپږو میاشتو په راپور کې راغلي، چې ۱۲۰۷ ماشومانو ته مرګ‌ژوبله اوښتې ده چې له دې جملې څخه ۳۲۷ یې مړه او پاتې ۸۸۰ یې ټپیان دي. دا د ۲۰۱۸ ز کال په پرتله ۱۳ سلنه کموالی په ډاګه کوي، چې په دې مرګ‌ژوبله کې هم غوښنه برخه د بمباریو له امله ده.

له بلې خوا داعش ډلې هم په افغانستان کې له نسبي ماتې وروسته، بیا د هېواد په ختیځو سیمو کې سر راپورته کړی او په دې وروستیو کې په کابل کې؛ د واده پر مراسمو د خونړۍ چاودنې مسوولیت یې هم پر غاړه واخیست. د هېواد په کچه له وروستیو امنیتي پېښو او په تېره بیا د بغلان او تخار ولایتونو له سقوط سره مخ کېدو، د کندوز ښار بیا ځلې سقوط کېدو او د دې ترڅنګ د بهرنیو ځواکونو په هوایي بریدونو کې ملکي وګړو ته د درنې مرګ ژوبلې له اوښتو څخه د هېواد راتلونکې امنیتي وضعیت ته ورپېښې ننګونې په ښه ډول څرګندېږي.

**د ملکي وګړو د مرګ‌ژوبلې پایلې**

د افغان حکومت او بهرنیو ځواکونو له لوري په جګړه کې د ملکي وګړو ژوند ته نه پاملرنه لاندې پایلې لرلی شي:

د افغان هوایي ځواکونو او امریکایانو لەخوا دا ډول بریدونه په لویه کچه د خلکو او حکومت ترمنځ واټن ډېرولی شي، چې ډېر کړی یې هم دی.

د ملکي خلکو مرګ‌ژوبله د خلکو کرکه پاروي او له کبله یې د دولت د وسله‌والو مخالفینو لیکې پیاوړې کېږي او د جګړې ډګر ګرمېږي.

پر دیني مدرسو، جوماتونو او نورو دیني ځایونو او دیني مراسمو بریدونه بیا د خلکو توند غبرګون هم پارولی شي.

دا وضعیت د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د سولې د خبرو اترو لپاره راټوکېدلې هیلې هم مړاوې کوي او داسې ښکاري چې دواړه لوري پر عامه ځایونو په بریدونو سره د بې‌باورۍ فضا نوره هم پراخوي.

**د سولې پر پروسه باندې د عامو وګړو د مرګ‌ژوبلې اغېزې**

په افغانستان کې د روانې جګړې د پای ته رسولو په موخه، د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې اترې چې له تېر یو کال راهیسې پیل شوې وې، د ځینو عواملو له امله بندې شوې دي. د دواړو لوریو ترمنځ چې کله خبرې روانې وې، دواړو لوریو هڅه کوله څو د جګړې په میدان کې یو پر بل فشارونه وارد کړي او د خبرو پر مهال د زیات امتیاز تر لاسه کولو په موخه، یو بل ته خپل قوت ښکاره کړي؛ خو دا چاره یې د ملکي وګړو په زیان تمامه شوې ده. په وروستیو کې افغان حکومت او بهرنیانو، پر طالبانو بمبارۍ او شپنې عملیات زیات کړي او له بلې خوا طالبانو د جګړې پر ډګر او چاودنو تمرکز زیات کړی، چې وروستی ستر برید یې په کابل ښار کې پر ګرین وېلېج کلي باندې و، چې په پایله کې یې د څو بهرنیانو په ګډون، ډېرى عامو وګړو ته مرګ‌ژوبله واوښتله؛ خو د دغو فشارو په لړ کې د ملکي وګړو مرګ‌ژوبله په بې‌ساري ډول زیاته شوې او په ځانګړې توګه د افغان او بهرنیو ځواکونو په ګډو هوایي عملیاتو کې نېغ په نېغه د ملکي خلکو کورونه په نښه کېږي. له بده مرغه افغان حکومت د افغان او بهرنیو ځواکونو د عملیاتو پر مهال د ملکي وګړو پر مرګ‌ژوبله، تل چوپتیا غوره کړې او په دې برخه کې یې تر دې دمه د خلکو له پراخو اعتراضونو سره سره، کوم جدي ګام نه دی پورته کړی؛ خو دا هغه څه کېدای شي چې د عامو افغانانو او حکومت ترمنځ لا هم واټن زیات کړي.

دغه‌راز د جګړې پر میدان به یې هم اغېز دا وي چې ښایي ځینې دردېدلي افغانان د مخالفینو لیکو ته ورشي او بېرته د افغان حکومت پر ضد وسله واخلي. کوم څه چې په تېرو کلونو کې هم د حکومت د وسله‌وال مخالفت یو مهم لامل بلل شوی دی.

# یوه تاریخي کیسه؛ د کردانو حال او پر امریکا د تکیه کوونکو برخلیک!

لیکنه: قاضي نجیب الله جامع

د مصر وتلی ادیب او لیکوال انیس منصور وایي: «د ایران پاچا رضاشاه پهلوي دا نصیحت په خپل غږ کې راته ثبت کړ او ما ته یې راکړ چې دا زما له خوا «انور سادات» ته ورسوه، دا هغه ته زما مهم نصیحت دی، هغه ټینګار راته وکړ چې انور سادات باید زما نصیحت خامخا عملي کړي».

د ایران پاچا مصري واکمن انور سادات ته په خپل نصیحت کې وایي: «په دې سیمه کې چې ما امریکایانو ته څومره خدمت کړی دی، بل هیڅا به نه وي ورته کړی، خو امریکایان هیڅ اصول او اخلاق نه پېژني. یو وخت یوه نڅا ځای کې زه د امریکا د ولسمشر کارټر له ښځې سره ګډېدم او هغه زما له ښځې سره ګډېدو. کارټر د ګډا په مهال زما ښځې ته په غوږ کې وویل: «ایران د امن جزیره ده او ایران ښایسته دی، خو په همدې وخت کې د امریکا د مرکزي استخباراتو مدیر د تهران په هوایي ډګر کې د خمیني انتظار کاوه!»

د ایران پاچا زیاتوي: «زما وروره انور ساداته! پر امریکایانو هیڅ باور مه کوه، هغوی که نن تا ومني، سبا دې وژني، له دوی نه ځان ساته، زما سره چې دوی څه وکړل، دا د هر چا لپاره د عبرت ستر درس دی او هېڅوک یې باید هېر نه کړي. یانې هر امریکا پلوی باید د امریکایانو پر دوستۍ باور ونه کړي».

انیس منصور په پای کې لیکي: «انور سادات لکه چې د ایران د پاچا نصیحت هېر کړی و، نو ځکه یې له امریکایانو سره د دوستۍ بده پایله مور په خپلو سترګو ولیدله».

د دغو واقعیتونو او د نن تاریخ حال د سوریې کردان دي، کردان په اسلامي تاریخ کې د صلاح الدین ایوبي له ستر او ویاړه ډک نوم سره یادیږي، دوی د هغه چا کهول دي چې تل یې نور ساتلي، ولې د نااهلو او له بهره صادرو شویو رهبرانو له امله، تل د ختیځ او لوېدیځ په لویو لوبو کې د ورځنیو سیاستونو او ژورو ستراتیژیکو ټکرونو په ګردوبونو کې لوبول شوي دي.

په ترکیه کې د اردوغان راتګ د کردي ملت لپاره په ایډیالوژیک او قومي اړخ دواړو کې یو ښه تغیر و، هغه چې د ترکیې دننه او بهر اردوغان د پان عثماني لیدلوري پر بنسټ تر بل هر چا کردان ډېر وپالل، مګر کله چې ځینې کرد سیکولر خوځښتونه د تل ابیب میدانونو ته لاړل او امریکا د صه یونیستي دوکتورینو د هڅونې پر بنسټ، د سوریې د وېشلو او د ترکیې د ګوابنلو په موخه، دغو ډلو ته نوي کوردینات ورکړل او هماغه وو چې هرڅه بدل شول.

سوریې ته د امریکایانو پښه راخلاصه شوه، کردان لومړني خلک وو چې د فراق غېږونه یې اوچت کړل، ټوپک یې واخیست او لومړنۍ امریکایي اډې هم د دوی په سیمو کې جوړې شوې. دا هغه مسئله وه چې د ترکیې د ستراتیژیکي دفاع د دودیزو حرمتونو ماتول وو.

نن چې امریکا له ترکیې سره د پټو ګټو کوم تړون کړی، امریکا د هغه په مقابل کې کردان د منفلې په نرخ خرڅ کړل او ترکیه یې د سولې په نوم وژني.

هغه چې اوس دوی ته له ترکیې سره پرته له تسلیمۍ او یا ځان وژونکې جګړې بغیر بل هیڅ کوم انتخاب نه دی پاتې.

د قدرت د نښې پر مهال پندونه او عبرتونه اخیستل د یوه نیم نېکمرغه په برخه کیږي، اکثره د واک او ځواک پر مهال په دې اړه عقل کم کاروي، ځکه خو ډېری پردي پال نامراده او ډېر ژر له واکه لوېدلي دي.

د نن او پرون تاریخي روایتونو دغه واقعې هر هغه افغان ته که د عبرت او پند اخیستلو وړتیا لري، د ایراني پاچا سپارښتنه دې جدي په پام کې ونیسي، په قدرت دې نه مغروره کیږي، د قدرت ناوې د ډېرو بدمرغه زلمو کونډه ده، لکه مرحوم پسرلی چې وایي:

نښه مې د قدرت خوړجنې ناوې ته چې وکتل
دا بوډۍ د ډېرو سرخوړلیو زلمو کونډه وه

او یا که هغه واقعیت هسې افسانه او کیسه بولي، نو د نن سوري کردانو برخلیک دې وارزوي، چې څنګه امریکایانو حیران او تر لاسو ـ پښو تړلي یې ترکانو ته پرېښودل، د سهیلي ویتنام د لاسپوڅیو حال دې واخلي چې کله امریکایان له ویتنامه په تېښته کې وو، نو د دې پر ځای چې دوی یې په الوتکو کې ورسره بیولي وای، په تش ډګر یې پرېښودل او له الوتکو یې کښته راغورځار کړل او که دا هم نه وي؛ نو د منځني ختیځ د مستبدو ډیکتاتورانو له برخلیکه دې ځان خبر کړي، چې څنګه یې لومړی د خپلو ولسونو پر خلاف لکه یوه وسیله وکارول او بیا یې پر همدغو ملتونو بې عزته کړل، په لارو او کوڅو کې یې پرې ووژل او یا یې لکه صدام حسین خبره تر داره ورسېده.

په پښتو کې متلونه دي چې وایي: «پردی کټ تر نیمو شپو وي؛ تر پردي زوی خپله لور هم ښه ده او یا په پردي لاس مار هم مه وژنه». اوس نو خبره زمونږ له امریکا مذهبو افغانانو سره ده چې پردۍ لښکرې تاسې نه شي ساتلی، خپل ولس ته مراجعه وکړئ، دا ډېر عظیم او عزتمند قام دی، په پردو یې ویاړمند تاریخ مه ور بدرنګه کوئ، هغوی چې په پردو یې ځان ساته، نه یې کور شته نه یې ګور، امریکایي ولسمشر ته د هغوی د قاتلو لښکرو د پاتې کېدو پر ځای پر خپل ولس تکیه وکړئ، روانه جګړه افغان وژنه او بهرنیان د دغه وحشت لومړني عاملین دي، بنا د ولس له غږ او غبرګون سره مله شئ، د بهرنیانو د وتلو ولسي داعیه ټینګه کړئ او د خپل ولس د لومړیتوبونو خپلول هغه یوازینۍ لار ده چې تاسو خپله ماضي پرې جبرانولای او د تاریخ له محکومیته چې د کردانو ننني او د ایران او مصر د پاچاهانو پخواني برخلیکونه دي، ورڅخه خلاصولی شي.

# د سلګونو بایومټریک دستګاوو قرنطین کېدل؛

## ښايي د ولسمشریزو ټاکنو لومړنۍ پایلې په ټاکلې نېټه اعلان نه شي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون په چارو کې د ستونزو له امله ښايي لومړنۍ پایلې په ټاکلې نېټه اعلان نه شي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون یوه کمېشنر له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، دوی ته تر سرعت دقت مهم دی، نو ځکه به د ټاکنو د لومړنیو پایلو اعلان څو ورځې وځنډېږي. بلخوا د ټاکنو کمېسیون وایي چې مرکزي بانک ته د اطلاعاتو د لېږد بهه یې بدله کړې ده. دوی وایي، په دې سره به یې په کارونو کې چټکتیا رامنځ ته شي.

سره له دې چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندانو ټاکنیز ټیمونه په ټاکل شوې نېټه د پایلو پر اعلان ټینګار کوي، خو د ټاکنو کمېسیون یو غړی وایي چې د لومړنیو پایلو په اعلان کې به ځنډ راشي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون کمېشنر مولانا عبدالله وایي، دوی شفافیت ته ژمن دي، نو د شفافیت د رامنځ ته کولو لپاره وخت ته اړتیا لري. د مولانا عبدالله په خبره، په دقیقه توګه نه شو ویلی چې د پایلو اعلان به څو ورځې وځنډېږي، خو تر ټاکلې نېټې به یوازې په څو ورځې ځنډ اعلان کړل شي. عبدالله وایي: ((کره یې نه شم ویلی چې څومره به وځنډېږي، خو یوازې یو څو ورځې به په ځنډ اعلان شي، مونږ کره والی د سرعت قرباني کولی نه شو)).

د ټاکنو خپلواک کمېسیون رییسې بیا تر دې وړاندې د لومړنیو پایلو د اعلان ځنډېدل رد کړې وو او په خبره یې، پایلې به د مهالوېش له مخې اعلانېږي. په همدې اړه د ټاکنو خپلواک کمېسیون یو بل غړی اورنګزیب بیا وایي، له بایومټریک دستګاوو د معلوماتو ملي مرکز ته د اطلاعاتو د لېږد بهیر له ځینو ستونزو سره مخ شو، چې له همدې امله د دوی چارې یو څه ټکنۍ شوې. هغه زیاتوي چې دوی د ستونزې د حل لپاره مرستیال مرکز پرانیستی دی او دمګړۍ چارې په سمه توګه پر مخ ځي. اورنګزیب وایي، ډېر ژر به ټول اطلاعات د معلوماتو ملي مرکز ته ولېږدول شي او پایلې به هم په خپله ټاکلې نېټه اعلان کړل شي. نوموړی زیاتوي: ((زمونږ لپاره وخت مهم دی چې باید ور سره سم مخکې لاړ شو او د همدې مهالوېش له مخې پایله له خلکو سره شریکه کړو، خو هڅه به دا وي چې شفافه نتیجه خلکو ته اعلان کړو)).

بل پلو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ځینې نور غړي وایي، چې د اطلاعاتو د لېږد بهه یې بدله کړې ده. د وای فای له لارې له بایومټریک دستګاوو د اطلاعاتو په لېږد کې د ستونزو تر رامنځ ته کېدو وروسته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون له ټاکنیزو ټیمونو سره په همغږۍ اوس د لېږد بهه بدله کړې ده. ټاکل شوې چې تر دې وروسته ټول اطلاعات په بایومټریک دستګاوو کې له نصب شوي چپ ولېږدول شي او د معلوماتو په مرکزي بانک کې ذخیره کړل شي. تر دې دمه د ۲۲۵۸۸ بایومټریک دستګاوو اطلاعات د معلوماتو مرکزي بانک ته لېږدول شوي دي. سرچینو ویلي چې ۲۳۰۰ بایومټریک دستګاوې د تخنیکي ستونزو له امله قرنطین شوې دي. د ټاکنو خپلواک کمېسیون بیا په تېرو ولسمشریزو ټاکنو کې له ټولټال ۲۶ زره بایومټریک دستګاوو استفاده کړې وه.

له دې سره هممهاله ټاکنیز ټیمونه دا وېره هم لري چې ښايي بې بایومټریکه رایې هم وشمېرل شي او په دې توګه د ولس حق تر پښو لاندې شي. خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي چې دوی یوازې بایومټریک شوې رایې شماري او همدا رایې ورته د باور وړ دي. د دغه کمېسیون یو کمېشنر مولانا عبدالله وایي: ((یوازې هغه رایې باوري دي، چې د بایومټریک دستګا کې ثبت دي)).

له دې سره پر ټاکنو څارونکې بنسټونه په ټاکنو کمېسیون کې پر ستونزو نیوکه کوي او وایي، له تېرو تجربو سره سره دوی بریالي نه شول چې ستونزې حل کړي. دوی له مهالوېش سرغړونه یا د لومړنیو پایلو په اعلان کې ځنډ غیر قانوني عمل بولي، خو بیا هم ټینګار کوي چې شفافیت ته باید لومړیتوب ورکړل شي.

# کردي ځواکونه: له دې وروسته د داعش ډلې د بندیانو ساتل مو لومړیتوب نه دی



د سوریې په شمال کې کردي ځواکونو خبرداری ورکړی چې له دې وروسته د داعش بندیانو ساتل دوی ته لومړیتوب نه دی.

د راپورونو له مخې، دا مهال زرګونه داعش جنګیالي په سوریه کې له کردانو سره بندیان دي چې اوسمهال یې د ساتنې په تړاو اندېښنې راپاربدلې دي. د سوریې شمال ختیځ سیمه چې د کردانو په مشرۍ د سوریې ډیموکراټیکو ځواکونو په ولکه کې ده، د ترکیې لخوا پرې پوځي عملیات پیل شوي دي.

ترکي ځواکونو تېره چهارشنبه پر دې سیمو پوځي عملیات پیل کړل چې ویل کېږي ورمه شپه یې د سوریې راس العین ښار هم تر خپلې ولکې لاندې راوستی دی.

د سوریې او ترکیې پولې دواړو خواو ته د رپوټونو له مخې، تر اوسه شاوخوا ۵۰ ملکیان وژل شوي دي.

ترکیه پر کردانو د ترهګرۍ تورونه پورې کوي او وایي، غواړي د پوځي عملیاتو له لارې کردي ځواکونه له خوندي سیمو په شا کړي. دوی په پام کې لري چې په ترکیه کې مېشت شاوخوا دری میلیونه کډوال په دغو سیمو کې ځای پر ځای کړي.

بلخوا د سوریې د بشري حقونو د څار لندن مېشتې ډلې ویلي، د سوریې پر کرد مېشتو سیمو د ترکیې د پوځیانو له برید راهیسې، تر دې دمه لسګونه کسان وژل شوي دي. په ورته وخت کې په ترکیه کې هم د ۱۷ ملکي وګړو د وژل کېدو رپوټونه ورکړل شوي، چې ویل کېږي د کردي ځواکونو په بریدونو کې وژل شوي دي.

د سوریې د بشري حقونو د څار ډلې ویلي، په وژل شویو کې یوه کردي سیاستواله او د ښځو د حقونو فعاله هم ده چې د سوریې په شمال کې پر سړک وژل شوې ده.

د نوموړې د ګوند غړو ویلي، د سوریې د راتلونکې حزب مشره هېروېن خلف هغه مهال له خپل ډرایور او ساتونکي سره په ډزو وژل شوې، چې له یوې جلسې بېرته ستنېده.

کردي ځواکونو ادعا کړې چې خلف د ترکیې ملاتړو ځواکونو له ګاډي ښکته کړې او وژلې یې ده.

بل لور ته د سوریې په شمال کې د امریکایي ځواکونو د ویستلو له پرېکړې او هلته د ترکیې د پوځي عملیاتو له پیلېدو سره، په دغه سیمه کې د داعش ډلې د زرګونو زندانیانو برخلیک لا هم نامعلوم پاتې دی.

د کردي ځواکونو تر ولکې لاندې سیمو کې د دوی لخوا د داعش اړوند بندیانو او د دوی په کورنیو کې بهرني وګړي هم شامل دي. کردانو خبرداری ورکړی چې تر دې وروسته د دغو جنګیالیو ساتل یې لومړیتوب نه دی.

## د کتاب خبرې

# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله


◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

دوهمه برخه

پاکستان

### پنځم څپرکی
### له منځه تلونکي قومونه




په کورمه ایجنسي کې د جګړو ریښې فرقه یي دي، خو په ۲۰۰۸ز کال د طالبانو له لوري د پاړاچنار نیول په بشپړه توګه د افراطیانو د هغې ستراتېژۍ برخه وه چې غوښتل یې د سپین غره څوکو ته ځان ورسوي. جګړې پر شیعه اکثریت لوی اغېز پرېښود. شیعه قومونه د پاڼ او پړانګ تر منځ را ګیر وو. د طالبانو له بریدونو سره د فرقه یي جګړو نوی څپرکی پرانیستل شو. ټولو ډلو له بهر څخه په خپلو کې یو پر بل د ملاتړ او نیابت تورونه لګول. شیعه قومونو شکایت کاوه چې سني ګاونډیانو یې طالبان د هغوی د ځپلو لپاره راویستلي وو. ځینو سنیانو بیا تور لګاوه چې شیعه مذهبو سره ایران همکاري کوي. له دې کړکېچن حالت څخه افراطیانو ګټه واخیسته چې له مخې یې پوره څلور کلونه په پاړاچنار کې کنټرول په لاس کې و. د مخالفتونو له کبله په شیعه قومونو لارې بندې وې، هغوی به پېښور ته چې د دې سیمو لپاره د اقتصادي مرکز حیثیت لري، د افغانستان د ختیځو سیمو له لارې سفرونه کول.

په جګړو کې تر (۳۰۰۰) کسان ډېر ووژل شول او په زرګونو نور یې ژوبل شول. تر هغې وروسته چې ځایي خلک پوه شول، د جګړې تر شا د پاکستاني طالبانو د تحریک لاس و او غوښتل یې خپل قدرت ته لاره اواره کړي، بیا هم جګړو دوام کاوه. جګړه مارو ډلو د ۲۰۰۸ز کال په اکتوبر کې د دولت په منځګړیتوب د سولې تړون وکړ. اسلام‌اباد ونه توانېد چې د سرتېرو په لېږلو سره د سولې اړوند تړون پلې کړي. د پاکستاني طالبانو تحریک هم هغه کسان په خلاص لاس وژل چې د هغوی د موخو مخالفت به یې کاوه.

د ۲۰۱۱ز کال په پیل کې د سولې هیلې بیا نوې شوې. په فبروري میاشت کې اسلام‌اباد د اوربند ملاتړ وکړ. حکومت ژمنه وکړه چې په زرګونو بې ځایه شوو کورنیو ته به مرسته ورکړي او د سیمې د لارو د ساتلو لپاره به سرتېري ځای پر ځای کړي. په تړون کې د دواړو اړخونو حقونه خوندي وو. ځایي سوداګر او سیاستوال منیر خان اورکزي راته وویل، دواړه لوري پوه شول چې هغوی په یوه بې مانا جګړه بوخت و او یوازې یې د بې ګناه وګړو په وژلو وخت تېراوه. اورکزي چې په پارلمان کې یې د کرمې د سنیانو استازیتوب کاوه، وویل: ((دا مذهبي جګړه هېڅ منطق نه لري. ځکه نو، خلکو د سولې تړون وکړ.))

تحلیل کوونکو ویل چې د سولې تړون د دوام په موخه نه و، بلکې یوازې له کورمې څخه افغانستان ته د یاغیانو د لېږلو په موخه تړل شوی و. د شنونکو په وینا حقاني شبکې د دې هرڅه تر شا لاس لاره، هغوی غوښتل، له دې لارې په افغانستان کې افغان حکومت او ناټو په نښه کړي، حقاني شبکې غوښتل، ځان ته بل ځای ولټوي، ځکه په شمالي وزیرستان کې امریکا د CIA تر سختو هوایي بریدونو لاندې وه.

د سولې تړون د ۲۰۱۱ز کال د مارچ پر ۲۷مه، هغه مهال مات شو چې د پاکستاني طالبانو تحریک له پېښور څخه پاړاچنار ته پر لاره موټریز کاروان برید وکړ او ۲۲ شیعه مسافر یې وتښتول. د تحریک مشر حکمت الله محسود (مسید) غوښتل د تښتول شوو کسانو پر سر پیسې واخلي، خو د خپلو ملګرو نورمحمد فضل سعید حقاني له سخت غبرګون سره مخ شو. نورمحمد د تښتول شوو له ډلې ځینې ځکه ووژل چې پیسې پرې وا نه خیستل شي. حکمت الله محسود غوسه شو او نورمحمد یې وواژه. فضل سعید حقاني یې له دندې لیرې کړ، پر ځای یې بل کس پر کار وګماره.

فضل سعید حقاني د هغه پر ضد د تحریک طالبان اسلامي په نوم یوه بله ډله اعلان کړه. هغه ادعا وکړه: ((ما په وار وار د پاکستاني طالبانو د تحریک مشرتابه شورا ته وویل چې پر مسجدونو، ښارونو او عامو خلکو دې ځانمرګي بریدونه نه کوي. اسلام په ځانمرګو بریدونو کې د بې ګناه وګړو وژلو ته اجازه نه ورکوي.)) د حقاني پر هڅو سربېره هغه ونه توانېد چې د یاغیانو په منځ کې ځواکمن ځای پیداکړي. د ۲۰۱۱ز کال په اوړي کې پاکستاني پوځ، له پاکستاني طالبانو څخه د کورمې ایجنسۍ د خلاصولو په موخه د «سپین غره» په نوم نظامي عملیات پیل کړل. اورکزي په سویل کې له کورمې او په لوېدیځ کې له خیبر سره پوله لري، دا یوازینۍ ایجنسي ده چې له افغانستان سره نه ده نیښتې، ځکه نو په ۱۹۸۰ز لسیزه کې دلته کم شمېر افغان مجاهدین اوسېدل، خو دا سیمه هم د جګړې له اغېزو خلاصه نه وه. دلته د سني او شیعه وګړو تر منځ د یوه ځایي پیر د زیارت د نوم پر سر جګړه وشوه. دا ډول وړې فرقه یي او مذهبي مسائل د کورمې په څېر سیمو او په ټوله کې په پاکستان کې د مذهبي او فرقه یي جګړو سبب شوي وو.

وروسته له هغه چې پاکستاني پوځ په ۲۰۰۴ز کال عملیات وکړل، د پاکستاني طالبانو تحریک دا ځای د خپل مرکز په توګه وټاکه. تحریک تر ۲۰۰۸ز کال د دوی پر وړاندې ټول ګواښونه او مخالفتونه وځپل او تر غرونو یې ځانونه ورسول. هغوی به ولسي شوراګانو ته چې د یاغیانو پر وړاندې به یې د مقابلې خبرې کولې، ځانمرګي بریدګر لېږل او هغوی به یې پرې وژل. د ۲۰۰۸ز کال په اکتوبر کې د علي خېلو پر جرګه د موټر بم برید وشو چې په ترڅ کې یې د طالب ضد قومي مخورو په شمول ۲۰۰ ولسي خلک ووژل شول. دا ډول بریدونو او وژنو طالبانو ته لاره خلاصه کړه او په لوړه اورکزۍ ولسوالۍ کې یې سني مېشتې سیمې په بشپړه توګه لاندې کړې. په ښکته اورکزۍ کې شیعه مېشتو قومونو د پاړاچنار د توریانو په څېر د طالبانو مقابله وکړه، هغوی یې خپلو سیمو ته پرې نه ښودل. **دوام لري...**

# عراق

حشمت الله نوري



عراق د منځنـي ختیځ او د عـربي منځنـي ختیـځ هېوادونـو پـه ډلـه کـې د آسیا پـه جنـوب لوېدیځـه برخـه او د عـربي خلیج پـه شـمالي څنډه کې د شـمالي عـرض البلدونو د ۲۵ او ۳۷ درجـو او د ختیـځ طـول البلدونو د ۳۸ او ۴۹ درجـو تـر مینـځ موقعیت لـري، چـې ټولټـال یـې پراخوالـی ۱٦۸۷۵۴ میـل مربـع تـه رسـېږي او له دې پلـوه د نړۍ ۵۲م لـوی هېـواد دی.

د عـراق شـمال تـه ترکیـه، جنـوب تـه کویټ او سـعودي عربسـتان، لوېدیـځ تـه سـوریه او اردن او ختیـځ تـه یـې ایران موقعیـت لـري.

عـراق د ځانګـړي جغرافیایـي موقعیـت لـه املـه، درې ډولـه اقلیمـي سیمې لـري. د ایـران او ترکیـې پولـو ته نـږدې په شـمالي او شـمال ختیځـو برخو کـې هوا سـړه او واورینه ده. د ختیځـو او جنـوب- ختیځـو سـیمو هـوا معتدلـه او د لوېدیځـو او جنـوب- لوېدیځـو برخـو هـوا یـې تـوده او وچـه ده.

د دجلـې او فـرات دوه لـوی سیندونه چـې د سـوریې او ترکیـې لـه غرنیـو سـیمو سرچینـه اخلـي، پـه شـمال- لوېدیـځ کـې د عـراق خـاورې تـه ننـوزي او مـخ پـه جنـوب- ختیـځ بهېـږي. هغـه لویـه شـنه او ښـیرازه- اواره سـیمه چـې د دجلې او فـرات ترمنـځ پرته ده، د بیـن النهریـن پـه نامـه یادیـږي.

د دغـه هېـواد پلازمېنـه د بغـداد ښـار دی او ټولټـال دغـه هېـواد څـه کـم ۴۰ میلیونـه نفـوس لـري، چـې پـه هـر کیلومـتر مربـع سـیمه کـې یـې ٦۸ کسـان ژونـد کـوي.

د عـراق ۷۵ سـلنه وګـړي پـه ښـارونو او پاتـې ۲۵ سـلنه هغـه یـې بیا پـه کلیـو او بانډو کې ژونـد کـوي. د دغه هېـواد د قانـون له مخې، هـره کورنـۍ پـه ټـول عمر کـې یـوازې د دریو ماشـومانو د درلـودو حـق لري.

عـراق د اداري وېـش لـه پلـوه پـر اتـو ولایتونو وېشـل شـوی دی. اربیـل، الموصـول، بصره، کربـلا، فلوجـه، مخمـور، کـوت العمـاره او امدیـا یـې مهـم او لـوی ښـارونه دي.

د دغـه هېـواد د حکومـت ډول جمهوري دی. د عـراق پخوانـی اساسي قانـون د ۱۹٦۸ ز کال د سـپتمبر پـه ۲۲مـه جـوړ او د ۱۹۷۰ ز کال د جـولای پـه ۱٦مـه نافـذ شـوی و. پـه ۱۹۹۰ ز کال کـې د دغـه هېـواد په اساسي قانـون کـې تعدیـلات راغلل، هغـه وخت چې امریکایـي پوځونـو پـر عـراق یرغـل وکـړ او د صـدام حسـین رژیـم یـې نسـکور کـړ، د عراق نـوي دولـت او امریکا د انتقـالي اداري قانون جـوړ کـړ.

د عـراق د اوسـني دولـت نوی اساسي قانون پـه ۲۰۰۵ ز کال کـې نافذ شـو. د دغه هېواد اوسـنی ولسـمشر بهـرام صالـح او لومړی وزیـر یـې عـادل عبـدال مهـدي دی. د عراق پارلمـان یـوه شـورا لـري، ولـسي جرګـه چې ۲۷۵ غـړي لـري، د دغـه هېـواد د ولـسي جرګـې غـړي د سـیمو پـه تناسـب، د خلکـو لـه‌خـوا د څلـورو کلونـو لـه‌پـاره ټـاکل کېږي.

د دغـه هېـواد د قضایـي قـوې پـه سر کـې د تمییـز عـالي محکمـه ځـای لـري. د عـراق حقوقـي نظـام پـه ځانګـړو محکمـو کـې د اسـلام د حکمونـو او پـه عامـه توګـه د مدنـي قانـون پـه اسـاس جـوړ شـوی دی.

الصـدر غورځنـګ، د مشروطـه پاچایـي غورځنـګ، د دعـوت ګونـد، د خپلـواک عراق اتحـاد او د عـراق حـزب اللـه ډلـه د دغـه هېـواد مهـم او نفـوذ لرونکـي ګوندونـه دي.

عـراق د ۱۹۳۲ ز کال د اکتوبـر پـه دریيمـه لـه بریټانیـې څخـه خپلواکـي واخیسـته او هر کال د جـولای ۱۷مـه د خپلواکـۍ د ورځـې پـه نـوم پکـې نمانځـل کېږي.

د عـراق اقتصـاد تـر ډېـره د تېلـو پـر هغـو صادراتـو ولاړ دی، چـې پـه اتیایمـه لسیزه کـې یـې پـه عنعنـوي توګـه د دغه هېـواد ۹٦ سـلنه بهرني عوایـد برابـر کـړي وو. پـه عراق کـې مـالي بحـران هغه وخـت زیات شـو چې لـه ایـران سره پـه اتـه کلنـه جګـړه کـې غیر اقتصـادي لګښـتونه زیـات شـول او د تېلـو د صادرولـو ځینـې تاسیسـات د ایران لـه‌خـوا وځپـل شـول. دا جګـړه د ۱۹۸۰ ز کال د سـپتمبر تـر ۲۲مـې وروسـته، هغـه وخت د عـراق او ایـران تـر مینـځ ونښـته، چـې د شـط العـرب د مالکیـت پـه سر د دوی لـس میاشـتنۍ خـبرې او ډیپلوماتیکـې هلـې ځلـې ځای تـه ونه رسـېدې او دواړو هېوادونو تـه یـې د سر او مـال درانـده زیانونـه واړول. دې سـتونزو د عـراق حکومـت دې تـه اړ کـړ چـې پـر عامو خلکـو د خوراکي توکـو، تېلو او درملـو کلکـه څېـره ولګـوي، ډېـر پـور واخلـي او وروسـته بیـا د بهرنیـو پورونـو د ورکـړې پر زمـاني جـدول باندې نوې کتنـه وکړي. عراق پـه دغـه اوږده جګـړه کـې ۱۰۰ بلیـون ډالره تـاوان وکـړ، کلـه چـې پـه ۱۹۸۸ ز کال کې دښـمني او جګـړه پـای تـه ورسـېده، د تېلـو صـادرات ورو ورو زیـات شـول، ځکـه چـې له یـوې خـوا نـوي پایـپ لینونـه وغزول شـول او بلـې خـوا د تېلو وران شـوي تاسیسـات بیا په کار وا چـول شـول. دغه هېـواد د دې جګړې ټپونـه رغـولي نـه وو چـې صـدام حسـین د کویټ د تېلـو پـر بډایـه زېرمـو بانـدې د مالکیـت پـه تمـه، پوځـې یرغـل وکـړ او دغـه کمکـی ګاونـډی هېـواد یـې ونیـو.

پـه بـدل کـې یـې ځینـو هېوادونـو پـر عـراق بندیزونـه ولګـول او بیـا امریکا او ملګـرو پوځونـو یـې پر دغـه هېـواد پوځـي برید وکړ. پـه دې جګـړه کـې د عراق پوځـي تاسیسـاتو، اقتصـادي او ټولنیـز نظـم تـه درانـده زیانونـه ورسـېدل او مـلي تولیـدات د لنـډې مـودې لـه‌پـاره کـم شـول. لـه دې وروسـته، د عـراق چاروا‌کـو ډېر ملي عواید د پـوځ پر بیا جوړونه او پیاوړتیـا ولګـول او د غیـر پوځـي اقتصـاد خـوا تـه پاملرنـه کمـه شـوه. دې کمـوالي د عامـو خلکـو پـر ژوند نـاوړه اغېـزه وکـړه، عراق د دې جګـړې لـه پـای تـه رسـېدو وروسـته هـم د هغـو بندیزونـو لـه نـاوړه اغېـز سره لاس او ګریـوان پاتـې شـو، چـې تېـل یـوازې د خوراکـي توکـو، دارو-درمل، طبیعـي خدماتو او ځینـو نـورو بـشري او غیر پوځـي اقتصادي اړتیـاوو د وارداتـو لـه‌پـاره هـم صاردولـی شي. د ۱۹۹۹ ز کال پـه ډسـمبر کـې د ملګـرو ملتونـو امنیـت شـورا عـراق تـه اجـازه ورکـړه، چـې د خپلـو تېلـو صـادرات د خپلـو ټولـو بـشري اړتیـاوو تـر حـده زیاتولـی شي.

عـراق د خپـل اقتصـادي پرمختـګ لـه‌پـاره ډېـرې سـتونزې پـه مـخ کـې لـري، د اقتصـادي بیارغونـې او پرمختـګ لـه‌پـاره تـر هرڅـه مخکـې داسـې اداراتـو او موسسـاتو تـه اړتیـا ده، چـې سـمې تګلارې جـوړې او پلـې کـړي. امنیـت هغـه بلـه سـتونزه ده چې کورنیـو او بهرنیـو پانګه‌والـو تـه د هڅونـې او کار لاره اواروـلی شي. پـر دولـت بانـدې د خلکـو اعتماد او پر راتلونکـي باندې ډاډ هغه نـور لاملونـه دي چـې د عـراق لـه اقتصـادي پرمختـګ سره مرسـته کـولي شي.

د طبیعـي زېرمـو اسـتخراج، د تېلـو چـاڼ، خوراکـي توکـي، کیمیـاوي توکـي، ټوکـران، سـاختماني مـواد، سـیمنټ، ګوګـړ، چـرم، د برېښـنا سـامان، د کانونـو د ایسـتلو ماشـینري، کوچنـي نقلیـه وسـایط او نـور د دغـه هېـواد مهـم صنعتـي توکـي بلـل کېږي.

د عـراق ۱۴ سـلنه ځمکـه د کرلـو وړ ده او ۳۵ سـلنه خلـک یـې د کرنـې پـه سـکټور پـر کار بوخـت دي او د هېـواد ۱۴ سـلنه ناخالـص کـورني تولیـدات لـه همـدې سـکټور څخـه لاس تـه راځـي.

غنم، وربشـې، وریجې، خرمـا، پنبه، چغندر، تنباکو، میوې، سـابه، غوښـه، لبنیات، هګۍ او واښـه د عـراق مهـم کرنیـز محصـولات بلل کېږي.

امریـکا، جنـوبي کوریـا، کانـاډا، اسـپانیا او چیـن د دغـه هېـواد لـوی تجـارتي شریکان دي. دغـه هېـواد ۱۰۵ هوایـي ډګرونـه لـري چـې ۸۰ یـې پـه پاخـه او عـصري ډول رغـول شـوي دي. همدارنګه د دغه هېواد د ټلیفون کـود ۰۰۹٦۴ او د انټرنېـټ کـود یـې IQ دی، چـې ټولټـال یې یو میلیون کسـان لاسرسـی ورتـه لري.

پـه عـراق کـې لـه ۲۰۰۳ ز کال وروسـته، د خصـوصي ټلویزیونونـو او راډیوګانـو شـمېر ډېـر ژر لوړ شـو، ځکـه چـې د مطبوعاتو نوي قانـون خصـوصي سـکټور تـه د رسـنیو پـه برخـه کـې د پانګونـې اجازه ورکـړه.

دغـه هېـواد د ناخالـص کـورني تولیـد او سـړې سرکلنـي عایـد پـه حسـاب، د آسیا یو پرمختلونکـی هېـواد بلـل کیـږي. پـه دغـه هېـواد کـې له ۱۵ کلنو څخه پورته ۸۵ سـلنه خلـک پـر لیـک او لوسـت پوهېږي. پـه عراق زده کـړه لـه ٦-۱۴ کلنـو ماشـومانو او تنیکـو ځوانانـو لـه‌پـاره وړیـا او جـبري ده.

د عـراق اوسـنۍ خـاوره د آسـیا د لویـې وچې او د نـړۍ د لرغـوني مدنیـت لـه څلورګونو مراکـزو څخـه بلـل کیږي. سـامیان لـه میلاد څخـه ۳۵۰۰ کالـه مخکـې بیـن النهریـن ته وکوچېـدل او سـومریانو د بیـن النهریـن پـه شـمالي سـیمو کـې د آشـور یـا آسـور هېـواد جـوړ کـړ. هغـه وخـت د سـامیانو پلازمېنـه بابـل او د سـومریانو پلازمېنـه نینـوا نومیدل. لـه میلاد څخـه ۵۳۹ کالـه مخکـې د کوروش پوځونـو د بیـن النهریـن ډېـره خـاوره ونیولـه، لـه میـلاد څخـه ۳۳۱ کالـه مخکـې سـکندر مقـدوني بیـن النهریـن ونیـو او پلازمېنـه یـې د سـکندر د سـتراوکۍ مرکز وټاکل شـوه. له میـلاد څخـه درې پېړۍ مخکـې، اشـکانیانو او وروسـته بیـا ساسـانیانو پـه بیـن النهریـن واکمنـي وکـړه، تـر هغـه وخـت چـې پـه اوومه پېـړۍ کـې مسـلمانو اعرابـو ساسـانیانو تـه بشـپړه ماتـې ورکـړه او اوسـنی عـراق د اسـلامي حکومـت جـز وګرځیـد. هغـه وخـت عـراق پـر دوو سـیمو وېشـل شـوی و، بصره او کوفـه چـې مـشران یـې سـعد بـن ابي وقاص او ابـو موسـی اشـعري وو. د حـضرت علـي د خلافـت پـه وخـت کـې د کوفـې ښـار د اسـلامي حکومـت مرکـز و. د نومـوړي خلیفه لـه شـهادت وروسـته، عـراق د امـوي خلفـاوو لـه‌خـوا اداره کېـده، د معاویـه د زوی یزیـد د حکومـت پـه وخـت کـې د کربلا غمجنه پېښـه را منـځ تـه شـوه او حـضرت امـام حسـین لـه خپلـو یارانـو سره پـه شـهادت ورسـېد.

د عـراق، افغانسـتان، ایـران او ترکیـې تـر منـځ د نـه تعـرض تـړون پـه ۱۹۲۸ ز کال کـې لاسـلیک شـو. پـه ۱۹۳۲ ز کال کـې د افغانسـتان او عـراق تـر منـځ د ښـو اړیکـو د پیـل هوکـړه وشـوه، دا هوکـړه پـه تهـران کې افغـان سـفیر شـیر احمـد خـان او پـه تهـران کـې د عـراق فـوق العـاده اسـتازي او وزیـر مختـار توفیـق لاسـلیک کـړې وه.

پـه ۱۹۴۱ ز کال کـې د افغانسـتان او عـراق سـیاسي اړیکـې د مختـار وزیـر سـوېې تـه لـوړې شـوې او عبدالرحمان پـوپل پـه بغداد کـې د افغانسـتان د لومـړني ډیپلومـات پـه توګـه وټـاکل شـو. پـه ۱۹۷۵ ز کال د افغانسـتان او عـراق پـه پلازمېنو کـې د دواړو هېوادونـو سـفارتونه پرانیسـتل شول او د دواړو هېوادونـو سـفیرانو خپـل کارونـه پیـل کـړل. لـه افغانسـتان څخـه تر عـراق پـورې د هوا له لارې فاصلـه ۲۲۲۷ کیلومـترو تـه رسـېږي او همدارنګـه د کابـل او بغداد ښـارونو تر مینځ د وخـت توپیر ۱:۳۰ سـاعته دی.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۸,۲۰ |
| € | ۸٦ |
| Rp. | ٤۹۹ |
| ₹ | ۱۱۰۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹۸ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبۍ | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبۍ | 08:50 |
| کابل - دوبۍ | 14:40 |
| کابل - دوبۍ | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زیږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

همیانی

# د بودجې د غوره مدیریت تګلاره

ژباړه: حمیدالله حمیدي



ډېری خلک اوس پر دې باور دي چې سپما خپله د ډېر مصرف لپاره لار هواروي، نه د پیسو ګټلو لپاره. غواړم ووایم، د دې لپاره چې پیسې پس انداز کړی، ښه ده چې کارو بار پرې وکړئ، څو ډېرې پیسې وګټی. بل دا چې د پیسو ګردش د خلکو د په کار کېدو لامل کېږي.

ولې د رابرټ کیوساکي د بودجې د مدیریت تګلاره تر پخوانیو او سټنډرډو (معیاري) تګلارو غوره ده؟

دا له هېچا پټه نه ده چې د ډېری امریکایي وګړو کاروبار هېڅ ښه نه دی. د «متلي فول» د راپور پر اساس، ان ۷۰ سلنه امریکایان په خپل بانکي اکونټ کې ۱۰۰۰ ډالر هم نه لري.

له دوی څخه ډېری کسانو ویلي، چې کله له کومې ناڅاپي پېښې سره مخ کېږي، نو اړ دي چې ان ۴۰۰ ډالر هم له یو چا څخه قرض وغواړي او یا یو شی وپلوري. «متلي فول» دغه راز ویلي، چې ۴۱ سلنه امریکایي وګړو خپلې پیسې په بانکونو کې ویدې کړې دي. د موري بکمن په اند، همدا پس اندازونه د دې لامل شوي چې ډېر زیات امریکایي وګړي له مفلسۍ سره مخ شي.

زه هم وایم چې سپما یا پس انداز مالي خپلواکۍ ته د رسېدو ښه لار ده، خو یوازې پس انداز نه شي کولای چې د امریکایي وګړو د مفلسۍ ستونزه حل کړي. لومړنی او مهم ټکی د مالي پوهې تر لاسه کول دي. ستونزه دلته ده چې پس انداز کول، قناعت کول او پور نه اخیستل اوس د تېر په څېر ځواب ویونکي نه دي.

د خبرې شیره به درته ووایم: د بودجې تخصص لکه یوه برنامه داسې ده. دغه برنامه کېدای شي کامله او د موخې درلودونکې وي او یا برعکس کېدای شي دغه برنامه ستاسو له اړتیاوو سره متناسبه نه وي او بې لارې مو کړي. هغه وخت بده ده چې تاسو خپلې پیسې یوازې په بانک کې وساتی، داسې چې له ساتلو پرته درته هېڅ ګټه ونه رسوي.

ښه پروګرام یا برنامه هغه ده چې وکولای شي تاسو د یوه ښه کارو بار څښتنان کړي. په دې سره کولای شی خپل کارو بار لوی کړی، خلکو ته خیر ورسوی او خپلو ټولو هیلو ته ورسېږی. دې ټولو ټکو ته پام وکړئ. په دې مقاله کې درې هغه ټکي تشریح شوي دي، چې په اصل کې تاسو ته د مالي ګردش اسباب برابروي.

یو اسانه او ساده تمرین: که غواړی له مالي اړخه خپلواک اوسی، نو خپل ټول میاشتني لګښتونه په یوه کالم او خپل میاشتني عواید په بل کالم کې ولیکئ. اوس مو خپل یو لاس پر خپلې میاشتنۍ تنخوا یا عوایدو باندې کېږدئ. اوس پوښتنه کوم، که تاسو هېڅ تنخوا ونه لری، څه پېښېږي؟ لکه څه ډول مې چې تجربه کړې ده، پوهېږم چې په زړه مو یو ډول وېره او ډار ننوت.

دا ډېره ښه ده، ځکه د ډېرو خلکو د ژوند له واقعیت سره مو مخ کوي. ډېری کسان ژوند په خپل میاشتني معاش سره تېروي، خو تر اوسه پورې مو فکر کړی چې څه به شوي وای که هره میاشت له یو ځای څخه درته دومره پیسې راتلې چې خپل مصارف مو پرې پوره کولای؟ هغه وخت به مو څه کول؟ تقاعد مو اخیست؟ زه او کیم په ۹۰ یمه لسیزه کې همدې پایلې ته ورسېدو. مالي پروګرام جوړول کولای شي تاسو ته ووایي، چې څه ډول مالي نقل او انتقال ته اړتیا لری.


کله چې له خپلو میاشتنیو لګښتونو خبر شوی، کولای شی داسې پروګرام ورته جوړ کړی چې په توان مو پوره وي. بیا به نو هر څه درته جالب او په زړه پورې شي. موږ د مخارجو د له منځه وړلو پر ځای، یو بل شی هم اضافه کړي دي یانې پانګونه مو کړې ده او پر هغه مو د «طلایي مالي قاعدې» نوم ایښی دی.

که هره میاشت دې پانګونې ته یو څه پیسې ځانګړې شي، بالاخره مو پر لومړیتوب باندې بدلېږي. ما او کیم ډېر زیات کار وکړ، څو ډېرې پیسې لاسته راوړو. نوي محصولات مو طرحه او تولید کړل او ملکي ګټور ترونونه مو وکړل.

دغه ډول نظریې مو هغه وخت ذهن ته راغلې چې پیسې مو له بانکونو را و ایستې او هڅه مو وکړه چې پیسې جوړې کړو. د دې پیسو ځانګړې کولو راته مالي خپلواکۍ ته نوره لار هم پرانیسته. دغه کړنلار دومره مؤثره تمامه شوه چې خپلې موخې او مقصد ته پرې ورسېدو.

نو که غواړی مالي خپلواکۍ ته ورسېږی او غواړی خوند یې حس او وڅکی، نو همدا یې وخت دی چې پر یوې مناسبې اختصاصي بودجې لاس پورې کړئ. خو زما دغه خبره هم ومنئ چې پر زړو قوانینو عمل مه کوئ؛ ځکه یوازې دغه نوي قوانین تاسو بریا ته رسولی شي.

## ټرمپ: خپلو قوماندانانو ته مې ویلي چې له افغانستانه ځواکونه را وباسي



د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي، په افغانستان کې له ۱۹ کلن پوځي او سیاسي حضور سره سره، په وضعیت کې جوت بدلون نه دی راغلی او افغانان لاهم په بد وضعیت کې ژوند کوي.

ترمپ چې په امریکا کې یوې کمپاینې ناستې ته خبرې کولې، ویلي، سره له دې چې په افغانستان کې خپلو پوځي جنرالانو ورته ویلي چې جګړه به سخته شي، خو دی وایي، نور په افغانستان کې د ځواکونو د پاتې کېدو لپاره لېوالتیا نه لري.

نوموړي زیاته کړې، امریکا په سیمه کې نورې ستونزې لري او اړتیا ده چې امریکایي سرتېري بېرته هېواد ته ستانه شي.


هغه ویلي: «یو جنرال ماته راغی او وایي چې په افغانستان کې د جګړې نوی فصل شروع شوی او ښایي جنګ نور هم شدید شي، ما ورته وویل چې ولې؟ هغه ویل چې طالبان له غرو راښکته کېږي او بریدونه یې زیاتېږي... خو پر بېړدئ چې زه واضح ووایم، موږ له افغانستانه خپل ځواکونه وباسو، څو خپل هېواد جوړ کړو، خپله اردو جوړه کړو، موږ نورې ستونزې لرو، ځکه چین او روسیه د دوو لویو قدرتونو په توګه زموږ پر وړاندې دي.»

د امریکا ولسمشر له افغانستان څخه د ایستل کېدونکو ځواکونو شمېر نه دی روښانه کړی، خو ویلي یې دي چې نه غواړي له ۱۹ کلنې جګړې وروسته بیاهم په سیمه او افغانستان کې د پولیسو رول ادا کړي.

ټرمپ پرته له دې چې د کوم هېواد نوم واخلي، پرخپله ټویټرپاڼه په یوه لنډ متن کې لیکلي، امریکا نور د بې پایه جګړو پای ته رسول غواړي.

د امریکا ولسمشر داسې مهال له افغانستان څخه د ځواکونو پر ایستلو ټینګار کوي، چې له طالبانو سره د سولې مذاکرات چې مهمه برخه یې د ځواکونو د ایستلو څرنګوالی و، لغو شوي دي، خو څرګنده نه ده چې امریکایي ځواکونه له طالبانو سره د سولې تر توافق پاتې کېږي او که له هغه مخکې وځي.

## یوناما: ټول اړخونه باید د ټاکنو خوندیتوب ته په پام خپلې ژمنې عملي کړي



په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولۍ یا «یوناما» ویلي، ټول اړخونه باید د ټاکنو د خوندیتوب او په ځانګړي ډول د جدول بندۍ او د پایلو اعلان ته په پاملرنې، خپلې ژمنې عملي کړي.

یوناما تېره ورځ په خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې ټول اړخونه د ټاکنو د باوري کېدو لپاره ګډ مسوولیت لري.

د یوناما په بیان کې راغلي: «ټول افغان چارواکي او ښکېل اړخونه د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د کمېسیون په ګډون، سیاسي ډلې، حکومت، کاندیدان او د دوی ملاتړي باید د ټاکنو د خوندیتوب، بشپړولو او د دغه بهیر د حراست لپاره، په ځانګړي ډول جدول بندۍ او د پایلو اعلان ته په پام سره، خپلې ژمنې وښیي».

په افغانستان کې د ملګرو ملتونو سیاسي استازولي داسې مهال دا غوښتنه کوي، چې ورمه ورځ د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم دویم مرستیال اسدالله سعادتي د ټاکنو په خپلواک کمېسیون کې د رایو شمېرلو پر بهیر باندې په انتقاد سره، د ټاکنو کمېسیون ځینې غړي د اشرف غني له ټیم څخه په ملاتړ تورن کړل.

یوناما زیاته کړې، له دې سره سره چې ټاکنیزو کمېسیونونو د درغلیو د مخنیوي ډېرې لارې چار تنظیم کړې، بیا هم وایي، ټول بنسټونه باید د درغلیو د مخنیوي او د رای شمېرنې په بهیر کې د شفافیت رامنځته کېدو په هدف رغوونکی رول تر سره کړي.

یوناما همدارنګه ویلي چې ټول اړخونه باید تر نظر ورکولو مخکې د رایو د شمېرلو د بهیر په اړه کره معلومات ولري او له ټاکنیزو کمېسیونونو څخه یې هم غوښتي چې د رای شمېرنې د بهیر په اړه کره معلومات وړاندې کړي.

دا په داسې حال کې ده چې د «ثبات او همپالنې» ټاکنیز ټیم کاندید عبدالله عبدالله او د «دولت جوړوونکي» ټاکنیز ټیم کاندید محمد اشرف غني په تېرو ټاکنو کې د خپلو بریاوو ادعاوې کړې دي.

ولسمشریزې ټاکنې چې د روانې تلې میاشتې په شپږمه تر سره شوې، ډېریو کاندیدانو یې ویلي چې له بایومټریک رایو پرته، نورې رایې نه مني.

د یادونې ده چې ټاکل شوې وه د یادو ټاکنو لومړنۍ پایلې د تلې میاشتې په ۲۷مه او وروستۍ پایلې د لړم میاشتې په ۱٦مه اعلان شي، خو پرون د ټاکنو خپلواک کمېسیون وویل چې نه شي کولای لومړنۍ پایلې په خپله نېټه اعلان کړي. د دغه کمېسیون یوکمېشنر مولانا عبدالله وایي، دوی په کره ډول نه شي ویلی، چې لومړنۍ پایلې به څومره وځنډېږي، خو یوازې په یو څو ورځو ځنډ وروسته به اعلان شي.

نوموړی وایي، دوی نه شي کولای کروالی د سرعت قرباني کړي.

مسیر ورځپاڼه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
ایډیټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
لیکوالان: اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
ګرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
المبارک
توریستي شرکت
0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستۍ برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.

دوشنبه د ۱۳۹۸ د تلې ۲۲مه | د ۲۰۱۹ د اکتوبر ۱۴مه | ٤٤٤مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ | ۲۳ | ۳۰ | ۲۱ | ۲۹ | ۲۲ |
| ۷ | ۷ | ۱۰ | ۹ | ۱۷ | ۱۲ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۳۵ | لمر ختل ۰۵:۵۹ | ماسپښین ۱۱:٤۰ | مازدیگر ۰۲:۵٤ | ماښام ۰۵:۲۳ | ماخوستن ۰٦:٤٩

## نړۍ



# کردي ځواکونه: له دې وروسته د داعش ډلې د بندیانو ساتل مو لومړیتوب نه دی

۳

## راپورونه: په جاپان کې د هاګیبس په نوم توپان ۱۱۸ کسانو ته مرګ ژوبله اړولې ده



جاپاني چارواکو ویلي چې د دغه هېواد په بېلابېلو سیمو کې د هاګیبس په نوم توپان لسګونو کسانو ته مرګ ژوبله اړولې او زرګونه نور د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي دي.

د چارواکو په خبره، په دغه توپان کې چې له تېرې جمعې راپدېخوا یې د دغه هېواد ډېرې سیمې اغېزمنې کړې، ۱۸ تنه وژل شوي، ۱۰۰ ټپیان دي او ۱٤۰ نور د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي دي.

د دغه هېواد د کیودو روز آژانس د خبر له مخې، د دغه توپان له کبله په ځینو سیمو کې سونامي هم رامنځته شوې چې ډېرو ودانیو ته پکې زیان اوښتی دی.

په ورته وخت کې د دغه هېواد د هوا پېژندنې ملي ادارې هم د ممکنه زیانمنېدونکو سیمو خلکو ته خبرداری ورکړی، چې خپلې سیمې پرېږدي.

دې ادارې ویلي چې د دوی موندنې ښيي چې د دغه توپان له کبله به د یاد هېواد په نورو ښارونو کې هم سیمې زیانمنې شي.

بلخوا، د دغه هېواد د بېړنیو مرستو ادارې یوه چارواکي رویټرز خبري اژانس ته ویلي چې سیمې ته یې ژغورونکې ډلې رسېدلې، چې تر دې دمه یې زرګونه کسان ژغورلي دي.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې هم په دغه هېواد کې زوررو زلزلو او سونامي ډېرو کسانو ته مالي او ځاني زیانونه اړولي دي.

## په بورکینا فاسو کې پر یوه جومات د برید له امله ۱۵ تنه وژل شوي



د بورکینا فاسو په شمال کې د مالي له پولې سره نږدې، پر یوه جومات د وسله والو په برید کې ۱۵ کسان وژل شوي دي.

عیني شاهدانو ویلي، قربانیان ټول مسلمانان دي او هغه مهال ووژل شول چې جومات کې یې د ماښام لمونځ کاوه. د راپورونو له مخې، له دې پېښې وروسته ډېر خلک د سیمې پرېښودو ته اړ شوي دي.

بلخوا له یادې پېښې وروسته، د دغه هېواد په پلازمېنه «اواګداګو» کې سلګونه کسان د خرابېدونکي امنیتي حالت او په دغه هېواد کې د بهرنیو ځواکونو د حضور په مقابل کې د اعتراض په ډول لارو- کوڅو ته وتلي.

د دغه هېواد اوسېدونکو رسنیو ته ویلي، چې له دې پېښې وروسته، خلکو د خپلو سیمو پرېښودل پیل کړي دي.

د یادونې ده چې په بورکینا فاسو کې له ۲۰۱۵ ز کال راهیسې، د تروریستي ډلو بریدونو زور اخیستی چې له کبله یې زرګونه ښوونځي هم تړل شوي دي.

د دغه هېواد په شمال کې له مالي سره پر ګډه پوله کې تاوتریخوالي هغه مهال زیات شو، چې وسله والو مخالفینو د بورکینا فاسو په شمال کې په ۲۰۱۲ ز کال کې پراخې سیمې تر خپل کنټرول لاندې راوستې.

د ملګرو ملتونو د کډوالو ادارې ویلي، څه باندې ۲۵۰ زره کسان له دغو سیمو بېځایه شوي او تېښتې ته اړ شوي دي.

## مشرانو جرگه: قضیهٔ افغان مارکیت در پیشاور باید به محاکم بین المللی محول شود



مشرانو جرگه، پایین کردن بیرق افغانستان از افغان مارکیت در پیشاور را توهین به افغانستان دانسته و تأکید نمود که سفیر پاکستان در کابل، باید احضار و این قضیه به محاکم بین المللی راجع شود.

این درحالی است که هفته گذشته، پولیس پاکستان شب هنگام بر افغان مارکیت که در منطقهٔ فردوس پارک جناح شهر پیشاور موقعیت دارد و ملکیت بانک ملی افغانستان است، حمله کرد و بیرق سه رنگ کشور را از این مارکیت پایین آورد.

در پی این اقدام پولیس پاکستان، سفارت افغانستان در اسلام آباد، قونسلگری افغانستان در شهر پیشاور را مسدود کرد.

حکومت پاکستان، دیروز با پخش خبرنامه ای گفته است که پاکستان، از تصمیم حکومت افغانستان پیرامون بستن قونسلگری افغانستان در شهر پیشاور، نگران است و نباید حکومت افغانستان این مسئله را سیاسی سازد.

همچنان حکومت پاکستان گفته است که یک باشندهٔ محلی، بالای زمین مارکیت افغان، دعوا کرده و محکمهٔ عالی پاکستان، به نفع آن شخص فیصله کرده است.


اما جنرال هاشم خان قونسل افغانستان در شهر پشاور، سه روز قبل طی یک کنفرانس خبری گفت که زمین یادشده، قبل از ایجاد پاکستان ملکیت افغانستان بود و محکمه در این خصوص فیصلهٔ نادرست کرده است.

اقدام یادشده پاکستان، خشم اعضای مشرانو جرگه را برانگیخته است.

فرهاد سخی رئیس کمیسیون امور بین المللی مشرانو جرگه در نشست دیروز این جرگه، افغان مارکیت را ملکیت بانک ملی افغانستان خواند و گفت که آنچه محکمه پاکستان فیصله کرده، قابل قبول نیست و باید این موضوع به محاکم بین المللی محول شود.


## ژوند

## پر شکرې ناروغۍ د اخته کسانو د پام وړ!




هغه کسان چې د شکرې پر ناروغۍ اخته دي، په ورځني ډول باید په خپلو خوړو کې له پنځه کالوري زیاته شکره وانه خلي. دغه راز ډاکتران تل خپلو ناروغانو ته د سپینې ډوډۍ پر ځای، د قهوه‌یي هغې د خوړلو سپارښتنه کوي. هغه کسان چې سپینه ډوډۍ خوري، هېڅ وخت هم د مړښت احساس نه کوي؛ ځکه دغه ډوډۍ په خپل ترکیب کې اړین غذایي مواد نه لري چې د انسان د اړتیا وړ انرژي برابره کړي. فیبر په اوړو کې هغه ضروري ماده ده چې په وینه کې کلېسټرول تنظیموي او له هضمي سیستم سره په مړښت کې مرسته کوي. برعکس، سپینه ډوډۍ د هغو غنمو له اوړو څخه پخېږي چې پوستکی ترې لرې شوی وي، که یې ډوډۍ وخوړل شي، د لا لوږې لامل کېږي. سپینه ډوډۍ په وینه کې شکره لوړوي. سپینه ډوډۍ د تصفیه شوو غنمو له اوړو پخېږي، د هضم په اوږدو کې ژر جذبېږي چې دغه څه په وینه کې د شکرې کچه لوړوي او انسولین ټیټوي. سپینه ډوډۍ یوازې د هغو خوراکي توکو سرچینه ده چې د شکرې او زړه ناروغۍ لا پیاوړې کوي او د چاغوالي لامل کېږي. همدا راز په سپینه ډوډۍ کې هېڅ ډول انزایم نشته.

## هېڅکله مه تسلیمېږئ



که خدای مه کړه پر کومه ناروغۍ اخته وی، نو د دې پر ځای چې ورته تسلیم شی، ورته ووایئ: ناروغي د خدای له لوري ده، زه په خپل وجود کې دومره قوت لرم چې کولای شي د هر ډول ناروغۍ مخه ونیسي. روغتیا همدا اوس ستاسې په وجود کې ده. د را برسېره کېدو لپاره وخت ته اړتیا ده. هېڅوک نه شي کولای د هغې مرستې او مهربانۍ مخه ونیسي، چې د خدای له لوري تاسې ته ځانګړې شوې ده. په منفي فکرونو او ګیلو کې ځان مه راګیروئ. هڅه وکړئ چې دغه ډول منفي فکرونه مو پر مثبتو هغو بدل کړئ:

«د ډاکتر پایلې د ښه زیرې ورکوونکې نه دي». تاسې د داسې خبرو په ځواب کې ووایئ: زه په خپل وجود کې د الهي درملو ښه زېرمه لرم. پر ما هېڅ ډول وسله نه شي بریالۍ کېدای. دا هم باید درک کړئ چې تاسې د هرڅه او هر کار وړتیا لرئ. دا خبرې چې هېڅ وخت به موخې ته ونه رسېږئ، دا شی او هغه شی نه لرئ، بیخي یوې خواته پرېږدئ. تاسې په وجود کې د هیلو او بریا زېرمې او انرژي لرئ. خدای پاک به هغه هیلې او بریاوې چې ستاسې په وجود کې یې ځای پر ځای کړې دي، رابهر کړي او پر حقیقت به بدلې شي. تاسې لا اوس هم وخت لرئ.